مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخر ۲۰۲۳/۰۷/۲۱

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(لومړی برخه)



(غازي امان الله خان)

نن سبا په ټولنيزو رسنيو کې يو شمېر کسان په دې ټينګار کوي چې د غازي امان الله خان په پرځولو کې انګرېزانو لاس نه درلود، هغه کسان چې د انګرېزانو په پلوی دا ډول خبرې کوي، غواړي په دې توګه د افغان او اسلام تاريخي دښمن انګرېز ته برأت ورکړي او د غازي امان الله خان هغه ټولې مثبتې کړنې په اوبو لاهو کړي چې د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ په موخه يې ترسره کړي دي. دغه کسان ادعا لري چې هېڅ داسې اسناد نشته چې د امان الله خان پر وړاندې د انګرېزانو لاس لرل ثابت کړي.

موږ د دغو کسانو د ادعا پر وړاندې، د امان الله خان په پرځولو کې د انګرېزي استخباراتو لاس لرل په مستنده توګه ثابتوو چې انګرېزانو د خپلې شيطاني پوهې په وسيله د امان الله خان د له منځه وړلو په اړه داسې پټې شيطاني کړنې ترسره کړې چې امان الله خان تر پايه خپل دښمن ونه پېژاند، امان الله خان هغه مهال د انګرېزانو په دسيسو پوه شو چې هغه له واکه لېرې شوی ؤ.

هغه مهال چې انګرېز استعمار نيمه نړۍ تر خپل تسلط لاندې راوستلې وه، هغه يې د توري په زور نه وه لاندې کړې، انګرېزانو، د نړۍ په هره سيمه کې، (زمان او مکان ته په کتو) سره په ډول، ډول خاينانه کړنو: زور، زاريو، مکر، ټګيو، بډو ورکولو، نفاق اچولو، قومي، ديني او مذهبي اختلافاتو په رامنځته کولو او نورو غير انساني کړنو په پلي کولو سره، د نړۍ ډېر هېوادونه ونيول چې د امان الله خان په له منځهوړلو کې يې هم له دا ډول شيطاني کړنو څخه کار اخيستی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

په دې تړاؤ انګريز بلفور چې له ۱۹۰۲-۱۹۰۵ز، کال پورې د برتانيې لومړيوزير(صدراعظم) ؤ، داسې ويلي:«... د دې لپاره چې افغانستان دوست کړو او په ځان پورې يې وتړو، موږ کله زور، کله ګواښ او کله بډې (رشوتونه) کارولي وو خو افغانستان هېڅ کله هم دوست نه شو.»[1]
انګريزانو د نړۍ په هر ځای کې هدف ته د رسيدو په موخه، د ايټاليا د پنځلسمې پېړۍ سياستوال، (نيکولای مکياولي) د غدارۍ له سياست **(هدف وسيله توجيه کوي.)** کار واخيست چې په هغو کې پر افغانستان باندې د دوی يرغلونه د يادولو دي او له واک څخه د امان الله خان پرځول، د حبيب الله کلکاني (بچه سقاؤ) واکمنول او واک ته د نادر خان رسول شامل دي.
لکه چې پوهېږو انګرېزانو له غازي امان الله خان سره له دې امله دښمني درلوده چې امان الله خان له انګرېزانو خپلواکي ترلاسه کړې وه او له شوروي اتحاد، جرمني او نورو انګرېز ضد هېوادونو سره يې نږدې اړيکې پاللې، انګرېزانو له افغانانو سره تېرې دوه جګړې (۱۸۷۸-۱۸۴۲ز،) له امير دوست محمد خان او امير شېرعلي خان سره له دې امله وکړې چې دوی له روسانو سره اړيکې پاللې خو دا ځل انګرېزانو د امان الله خان د پرځولو په موخه، د مخامخ جګړې پر ځای خپلې نيابتي، استخباراتي جګړې پيل کړې.
انګريزانو په کال (۱۹۲۱،ز) کې له افغانستان څخه غوښتنه وکړه چې د شوروي اتحاد قونسلګرۍ له هيواده وباسي او خپلې اړيکې له شوروي سره پرې کړي او پر ځای يې د انګريزانو نمايندګۍ په هرات، غزني او نورو سيمو کې ومني، کنه د افغانستان او انګلستان اړيکې به وشلول شي. په دې موخه د همدې کال په اوړي کې يوه افغاني مشورتي غونډه د شاهي ارګ په شمالي بُرج کې د پاچا امان الله په مشرۍ جوړه شوه، نوموړې غونډه د کابينې او دولت له مامورينو چې مديران او نظامي افسران، تر کنډک مشرانو پورې يې ګډون په کې کړی ؤ د دوی خبرو اترو دوه ورځې وخت ونيوه، په رای‌ګيرۍ کې تقريباً د غونډې ټولو غړو د انګريزانو يادداښت [غوښتنه] رد کړه او د اړيکو پرې کېدو لپاره يې تياری ونيوه، حتی که د افغان او انګرېز څلورمه جګړه هم پيل شوي وای ... .[2]
وروسته له دې انګرېزان د افغانستان دننه ته متوجه شول، ويې غوښتل چې د اغتشاشاتو په راپيدا کولو سره د افغانستان خپلواک دولت له منځه يوسي، انګريزان په دې پوهيدل چې د افغانستان د خپلواکۍ له منځه وړل د پوځي زور له لارې ناشونی کار دی، دوی غوښتل چې په افغانستان کې داسې يو دولت رامنځته کړي چې ظاهراً خپلواک خو په باطن کې د انګرېزانو لخوا اداره شي... .[3]
هغه وو چې انګرېزانو تصميم ونيو چې امان الله خان له منځه يوسي او پر ځای يې خپل لاس‌پوڅی کس پاچا کړي. انګرېزانو حالاتو او پېښو ته په کتو، په لومړي ګام کې د امان الله خان پر خلاف له هغو اصلاحي ريفورمونو ګټه پورته کړه چې په نامخامخ توګه د انګرېزانو لخوا د امان الله خان په لاس رامنځته شوي او پلي کيدل، انګرېزان له دې امله خوشاله وو چې د امان الله خان اصلاحي ريفورمونو د طرحه کوونکو په توګه نه دي پېژندل شوي. «د انګلستان حکومت داسې تبصره هم کړې وه:... دا به هم ښه نه وي چې موږ د ملايانو پر وړاندې خپل موجوده ښه شهرت له لاسه ورکړو **(دا شکر دی چې د اسلام ضد ريفورمونو منځ ته راوړونکي نه يو پېژندل شوي.)**[4]
د هغه مهال د افغانستان په وروسته پاتې ټولنه کې انګرېزانو وکړای شول د ځينو نيمه ملايانو په خوله د امان الله خان اصلاحي ريفورمونه د اسلامي شريعت خلاف وبولي او پر امان الله خان د کفر ټاپه ولګوي، هغه وو چې انګرېزانو له يوې خوا د امان الله خان په حکومت کې د خپلو اجنټانو لخوا د ريفورمونو پلي کول ګړندي کړل او له بلې خوا يې د ملايانو لخوا ريفورمونه کفري وبلل.
په دې هکله ليکواله ريه تالي ستيوآرت ليکي:«... دا به په افغاني فولکلور کې يوه منځ ته راغلي افسانه شي چې بريتانويانو په شعوري توګه د امان الله هيلې او خواهشات د دې په خاطر چټک کړل چې د هغه د زوال پروسه ګړندۍ (تسريع) شي او دې شي ته يو بريتانوي (بې ځايه هلې ځلې او پاريدنه) وويل.»[5] انګرېز استخباراتو ملايان وهڅول چې د امان الله خان د اصلاحاتو پر وړاندې ودرېږي او هغه د شريعت پر خلاف تبليغ کړي، د امان الله خان پر

---

[1] د ډاکتر رحمت ربي ځيرکيار، ليکنه: ډيورند تړون- لندن او امريکا: افغان-جرمن پورټال.

[2] مير غلام محمد غبار: افغانستان در مسير تاريخ. ۸۰۶مخ

[3] هماغه کتاب. ۸۷مخ

[4] ريه تالي ستيوآرت: اور په افغانستان کې . ژباړه: د محقق مرستيال عبدالحسيب حکمي. ۵۸۹مخ

[5] هماغه کتاب. ۵۰۹مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

وړاندې لومړی پاڅون د ۱۳۰۲ل. ل، کال د کب په میاشت[6] کې د خوست په منګلو کې ملا عبدالله چې په (ګوډ ملا) مشهور ؤ او د هغه د زوم ملا عبدالرشید له خوا پیل شو.
د غازي امان الله خان پر وړاندې د ګوډ ملا عبدالله بغاوت لپاره هغه پېښه پلمه شوه چې«د منګلو د قوم یو تن، د یوې جلکۍ پر کوژدن د پلار په وکالت په کم عمرۍ کې د ازدواج او نکاح دعوه وکړه. د دعوې دواړه اړخونه د سیمې حاکم، امرالدین خان او ملا عبدالله قاضي ته ورغلل. امرالدین خان د جلکۍ رضایت ته په کتو، په کم عمر کې د واده دعوه کوونکی په زور سره له دعوې څخه منع کړ او نجلۍ یې خپل خاوند ته وسپارله. ملا عبدالله چې رشوت یې اخیستی ؤ د دعوې په دې ډول پرېکړه خوښ نه ؤ، غوښتل یې چې جلکۍ له وخته مخکې د نکاح په دلیل هغه بل کس ته ورکړي، نو پر حاکم یې له سپیڅلي شریعت څخه د مخ اړولو نیوکه وکړه خو حاکم د هغه نیوکې او فقهي اعتراض ته توجه ونه کړه او د هغه په خبره یې غوږ ونه ګراوه. ملا عبدالله چې د فساد اور بلولو ته په تمه ؤ، موکه یې ترلاسه کړه او د خپلې کینې او دښمنۍ د اور پر بلولو یې لاس پورې کړ. مدعي ته یې د افغاني ننګ او غیرت پیغور ورکړ او ویې هڅاوه چې د قبایلو ملکانو او مشرانو ته ورشي او پر دې سربیره یې پخپله هم د فتنې اور ته لمن ووهله. بیا یې د خپلې ارادې سره سم د جګړې اور بل کړ او د ټولې سویلي سیمې ټولې قبیلې د ګوډ ملا عبدالله د تبلیغاتو او تحریک له امله چې د اسلام مبارک دین او سپیڅلي شریعت د ساتنې ادعا یې کوله او خلکو ته یې د جنت وعدې ورکولې، له دولت سره یې تر دوو کلونو او دوو میاشتو جګړه وغځوله. په دې جګړه کې نږدې ۱۴زره کسان ووژل شو او د دولت عوایدو ته درې کروړه روپۍ زیان واوښت. همدارنګه د دې جګړې له امله ډیر مالي او مادي زیانونه واوښتل او خلکو ته ناموسي هلاکتونه پیښ شول. د اسلامي ټولنې د قوت په بازو کې رضوت[؟] رامنځته شو او په پای کې هغه څه چې د امیر امان الله خان او وژل شوو د نوم د دوام او د ملا عبدالله د جمیل[؟] د یادونې سبب شول هماغه د علم او جهل منار او د لښکر د وژل شوو منصبدارانو د نومونو په کې حک کول وو او همدارنګه په طاق ظفر کې هم دا یاد شوي چې نور هیڅ هم ترلاسه نشول. [7]
دا مهال د انګریزانو د استخباراتو وتلی فعال **(ډګروال ټامس ایډورډ لارنس)** مشهور په عربي لارنس دننه په افعانستان او د ډیورنډ کرښې هاخوا د حکومت پر وړاندې د خلکو د پارونو په کار لګیا ؤ، د لارنس په اړه وویل شول چې د ملایې په جامه کې د افغانستان شرقي سیمو ته ننوتی دی او د پاڅون اور یې بل کړی دی چې دا موضوع د شوروي او انګلستان په جریدو کې مطرح شوي وه. [8]
پر عربي لارنس باندې په اخبارونو کې په هره ژبه بحث کیده او د ډېرو خلکو په فکر هغه په همغه بڼه چې په عربستان کې ګرځیدلو د افغانستان په غزني کې هم ګرځي چې پاچاهان له مینځه یوسي او رامنځ ته یې کړي ... لارنس له میرانشاه څخه په داسې چټکۍ سره بې ځایه کړای شو چې د هغه ګرمافون چې د (جورج برناردشاو) لخوا تحفه ورکړل شوی ؤ هم ورڅخه پاتې ؤ. د جنوري په نهم تاریخ په کابل کې د انګریزانو مختار وزیر(سرفرانس همفریز) تیلګرام وکړ او په عصبانیت سره یې وویل چې لارنس چیرې دی؟ په ځواب کې ورته وویل شول، هغه یوه ورځ دمخه له سرحد څخه تللی دی، لارنس اول لاهور بیا بمبۍ ته وړل شوی ؤ چې انګلستان ته ولاړ شي، دا د هغه خپل انتخاب ؤ، اخبارونو په طبیعي توګه داسې پوښتنه وکړه: که د لارنس موجودیت په هند کې کومه ګټه نه درلودله نو د هغه د بیرته ستنیدو په باره کې دغه ټول اسرار څه مانا لري؟. د دې اوازې نتیجه دا شوه چې هغه نفر بالاخره د بیړۍ به ذریعه (لیموت) ته ورسید، هغه لارنس نه ؤ بلکې د هغه مینوټ ؤ او ریښتیني لارنس لا په افغانستان کې دنده تر سره کوله،[9]
په کابل کې د انګریزانو سفیر سر فرانس همفریز له وروستیو پیغامونو څخه یو پیغام داسې ؤ: زه باید د تیلګرام په واسطه پوه شم چې لارنس چیرې اوسیږي او دا واک دې راته راکړی شي چې د هغو خبرو ځواب ورکړم چې وایي: هغه د سرحد په نږدې سیمو کې اوسیږي او یا دا چې هغه له افغانستان څخه لیدنه او کتنه کړي ده، همفریز ته ویل شوي چې لارنس په دې وختونو کې پیښور ته بدل شوی دی، لیکن بدل شوی نه ؤ او تر اوسه پورې په میرانشاه کې ؤ.
د افغانستان له کیسو څخه یوه کیسه داسې وه چې د ختیځې سیمې په غرنیو سیمو کې یو پیر د پاڅونونو په وخت کې لیدل شوی چې تر هغه وروسته بیا ونه لیدل شو، دا پیر کله د پیر کرم شاه او کله به د پیر منشي شاه په نامه سره

---

[6] افغانستان در مسیر تاریخ ص ۸۷مخ
[7] ملا فیض محمد کاتب: تذکرالانقلاب. ۵۱-۵۰مخونه.
[8] افغانستان در مسیر تاریخ. ۸۱٤مخ

[9] اور په افغانستان کې.٦٢٣مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

یادیده او داسې عقیده موجوده وه چې هغه لارنس ؤ... څلور تنه له رمزه ډک پیران په رښتیا سره د افغاني غرونو له لارو څخه تګ راتګ کاوه، دوی هغه استازي وو چې د کابل له استازیو سره په اړیکې کې وو او د هند له مسلمانانو څخه وو چې کولی یې شول له سرحد څخه تیر شي، په لاهور کې په یوه مشهور پیر باندې د قهرجنو هندیانو لخوا چې فکر یې کاوه هغه به لارنس وي برید وشو او نږدې ؤ چې ویې وژني... .
همفریز تیلګرام ورکړ: هغه اروپایی سړی چې ساختګي ږیره یې درلودله او په دې وختونو کې د خوست په متون کې نیول شوی دی ممکن یو جرمنی سړی وي چې سپارلینګ نومیږي... نوموړی څو اونۍ د مخه له کابل څخه ورک شو... دا هغه اروپایی دی چې افغانان وربانديې د لارنس شک کوي... داسې ښکاري چې د لارنس کیسه به له مینځه ولاړه شي که چیرې سپارلینګ لاس ته راشي ، لیکن په متون کې د هغه نیول به دا موضوع مشکله کړي چې موږ په خپلو قبایلو کې بې طرفه پاتې شو.[10]
د بي، بي سي، د پښتو څانګې پخوانۍ مشره آغلې صفیه حلیم چې د بریتانیې کتابتون او نورو انګریزي منابعو ته یې ښه لاس رسی درلود، د ډګروال لارنس په هکله یې د انګریزي منابعو پر بنسټ لیکنه لیکلې ده چې له هغې څخه ځینې برخې چې د امان الله خان پر وړاندې پر بغاوتونو پورې اړه لري را اخلو: [ډګروال لارنس] د (ټي. اي. شا) په نوم د پوځ د (ټانکونو) د کنډک سره پاتې شو خو په ۱۹۲۷م، کې بیرته د هوایي ځواک غړی شو او هند ته یې واستاوه. څو میاشتې ده، د پښتو او د اردو ژبو زدکړه کوله او د افغانستان په اړه یې ځان پوهولو.
په عربانو کې د هغه هدف د ملت پالنې د جذبې پیدا کول وو چې د ۴۰۰ کلونو د ترکانو خلافت پر ضد راپاڅي. په افغانستان کې د هغې برعکس، د یو ملت پال پاچا امان الله خان پر ضد خلک د اسلام او د ملاتوب د لارې راپاڅول وو.
په افغانستان کې د ده یوه لویه ستونزه دا وه چې ولس د ده په ژبه نه پوهیده. په لنډ وخت کې د دې زدکړه ګران کار ؤ. په ۲۶ مې ۱۹۲۸م، کې هغه د کراچۍ نه پیښور ته ورسیدو.
د بریتانیې د هوایي ځواک مارشل (چیپ مېن) پخپل کتاب، (د افغانستان د پاسه وزرې) کې لیکي:«کله چې امان الله خان په دسمبر ۱۹۲۸م، کې اروپا ته د سفر لپاره هند ته روان ؤ، نو هم هغه وخت (ارمان شاه) د هند شمال مغربي سرحد ته ورسیدو. ده د میرانشاه هوایي ډګر کې د الوتکو د یو تخنیکار په توګه خپل کار پیل کړو.»
دلته دولس جنګي الوتکې ۵ افسران ۲۵ تخنیکاران او ۷۰۰ نیمه پوځي د ملېشې وګړي پراته وو. لارنس د ۱۹۲۸م، کال د مې په وروستیو کې هلته ورسیدو چې د منشي توب دنده یې ورته وسپارله.
لارنس د یو عرب ملا په جامه کې له [ډیورنډ کرښې] واوښت او زیات وخت د خوست او پکتیا د سیمې ملایانو سره ګرځیده ځکه عربي یې زده وه او لمونځونه به یې هم ورسره کول. لارنس به ښایسته وریښمینه چپنه په غاړه وه، درونډ پټکې به یې په سر تړلی او **عامو خلکو به یې لاسونه ښکلول.**
په کابل کې لارنس د بریتانیې سفیر (سر فرانسس همفریز) سره نېغ په نېغه اړیکې ساتلې. دواړه د لومړي نړیوال جنګ پر وخت په مصر کې د یو ځای کار پر وخت ملګري شوي وو. د بریتانیې حکومت د دوی پلان منلی او دوی ته یې د هر ډول لګښت لپاره پیسې ورکړي وې.
لارنس په هر ځای کې په یو نوي لقب سره پیژندل کیدو. په ننګرهار کې د (بخارا پیر) او په پیښور کې ورته (شامي ملا) ویل. لارنس د شینوارو او خوګیانو د مشرانو لکه محمد علم، محمد افضل او نامتو ملایانو لکه د چارباغ نقیب ملا، د چکنور ملا او د هډې ملا سره ولیدل. هغوی سره یې پټې جرګې کولې او د پیسو او د وسلو د ورکولو سره یې هغوی ته د امان الله خان پر ضد د یوې اعلامیې لیکلو لپاره یو مضمون ورکړ.
د انګریز په دوسیو کې د دې ټولو مشرانو خپل خپل نومونه شته، لکه عبد الواحد شینواری یې چې (وید) باله.
لارنس په لږ وخت کې د کابل په لارو کوڅو کې د خلکو په روحیه ځان پوهولو او شور بازار ته هم ورتلو. دلته د مدرسې نامتو پیر حضرت شور بازار په ۱۹۲۴م، کې د امان الله خان پر ضد د خوست ولس د یو پاڅون لپاره لمسولی وو. (صفیه حلیم: د عربستان لارنس په افغانستان کې. لیکنه)

---

10 هماغه کتاب. ۵۸۱مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



(ډګروال ټامس ایډورډ لارنس، په عربي جامو کې)

نېټه: ۱۴۰۲/۴/۳۰ل. ل

**نور بیا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ